Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د ژبي او هويت اړيکو ته کتنه

پوهنمل دوکتور نوراحمد ایمل *[۱]،پوهنیار نذیر احمد رښتینی[۲]
پښتو څانگه، ښووني او روزني پوهنځی، هلمند پوهنتون[۱،۲]
د مسؤل آیمیل آدرس. imall1365@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۰۸/۱۹ منل سوي:۱۴۰۳/۰۹/۰۲ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت گڼه: LSSAJ-1-1-19 مخونه (۲۷-۳۸)

## لنډيز

په دي مقاله کي د ژبي او هويت تر منځ پر اړيکه بحث سوی دئ، نن ورځ په نړۍ کي څه کم او زيات ۷۰۰۰ ژبي د وينګ وړتيا لري، هره ژبه د فرهنګ، هويت او افکارو د انتقال دنده لري. د هويت او ژبي پديدي ډېري سره تړلي او نه بېليدونکي دي، موږ چي د ژبي په علمي مفهوم او ټولنيز ارزښت پوه سو، نو ورسره يو ځای د هويت حس او فکر را پيدا کيږي، په دي مقاله کي کوښښ سوی دئ، چي دواړي پديدي په هر اړخيزه ډول معرفي سي، که څه يې هم په اړه د پوهانو پخواني او اوسني نظريات ډېر دي او تر خپل منځ توپيرونه هم لري، خو موږ هڅه کړې ده، چي د اوسني عصر مطابق د دي دواړو فرهنگي او معنوي ارزښتونو تر منځ اړيکي وښنو. هويت د يوې ټولني مشترکو ارزښتونو ته ويل کيږي، چي هغه ټولنه له بلي ټولني په بېليري او پېژندل کيږي. د ټولني فرهنگي مسايل، دودونه، رواجونه، خبري، لهجې، ناسته ولاړه، قومونه، ژبي، دين او مذاهب دا هغه نخښي دي، چي يوه ټولنه له بلي په بېليږي، ژبه نه يوازي د افکارو او خيالاتو د انتقال وسيله ده، بلکي د هويت په ساتنه، څرګندونه او پرمختګ کي پوره ونډه لري. ژبه او هويت د ټولني بنسټونه تشکيلوي. د ټولني رغښت او سمبالښت پرته له ژبي ناممکن دئ، د تاريخي دورو په لړ کي د ژبي را روانه لړۍ د دي سبب سوې ده، چي پخپل غيږ کي د ا ستر معنوي ارزښت وساتي، ژبه د هويت او فرهنگ د ساتلو لويه انتقالي وسيله ده، په دې څېړنه کي د دواړو پديدو هر اړخيزه تقابلي اړيکي تحليل او څېړل سوي دي؛ د کتابتوني څېړني پر بنسټ کار سوی دئ او په ټوله کي د هويت او ژبي اړوند معاصر نظريات او پېژندني تحليل او را وړل سوي دي.

**کليدي کلمې:** هويت، ژبه، کلتور، پېژندنه، تاريخ

## سريزه

په نړۍ کي اته عشاريه دوه ميلیارده انسانان ژوند کوي.(World Population Prospect ONU 2024) دا ټول فردي او ډلېز هويتونه لري. انساني ټولني په ټوله کي د ځانګړي هويت ښښتناني دي، د هويت ساتني او ددې پديدې د ارزښت په موخه ډېري زياتي څېړني سوي دي. د

ژوندانه په هره برخه کې د هویت نخښې نښانې څرګنې سوي دي، لا یې د ښې پېژندنې لپاره تحقیقات روان دي. داسې ټولنیزه برخه نه ده پاته، چې د هویت تړاو یې نه وي ورسره ورکړی. د ژبې هویت، جنسیتي هویت، د افکارو هویت، د جغرافیې هویت، فردي او ډلییز هویت، د ټولني هویت، د ادبیاتو هویت او دې ته ورته نوري برخې څرګنې سوي دي. په ټوله کې بشرددې هڅه کوي، چې خپل هویت پېژندنې لپاره لا ډېرې نورې هڅې وکړي. د ژبو څېړنې د همدې موخې لپاره کېږي، چې خپل ژبنی هویت لا روښانه کړي. تاریخي او علمي بشري تحقیقات ددې په موخه کېږي، چې موږ څوک او څنګه دې حد ته را رسېدلی یو؟ دا چې موږ په دې مقاله کې د ژبې او هویت پر اړیکو بحث کړی دئ، موخه مو دا ده، چې دا دوې فرهنګي پدیدې او د دوی تر منځ تړاوونه تر یو حده څرګند کړو.

دا چې هویت څه دئ، ولي دومره د څېړونکو د بحث لامل ګرځېدلی دئ، پوهانو یې په اړه له ارزښته ډکې لیکنې کړې دي. هویت د یوې ټولني د ټولو ارزښتونو هغه مجموعه ده، چې د هغې ټولني انسان اسانه په پېژندل کیږي ( hossain,2014). ځینو هویت د یوې ټولنې د معنې او مفهوم په توګه کارولی دئ، د هري ټولني د خلکو ژوند او د ژوند ډول یوه معنی لري؛ که چیري په یوه ټولنه کې تخریب او ستونزه پېښه سي، معنی او مفهوم د لاسه ورکوي، چې معنی یې د لاسه ورکړه هویت یې زیانمن سو. د ټولنیزو علومو عالم بوزان هویت د یوې ټولنې روح ګڼي(1993،buzan). پراخ مهاجرتونه، قومي جګړې او نوري ګډوډۍ هویت زیانمنوي، نو د هویت ساتنه په داسي بحراني حالت کې ډېري پاملرني ته اړتیا لري. تر څنګ یې ژبه د کمالاتو څخه ډکه هویتي پدیده ده، په ژبه د ټولنو د فرهنګنو، هویتونو او افکارو توپیرونه څرګندیږي. ژبه د مفاهمې د یوې غوري وسیلې په توګه په انساني ټولنه کې هغه وخت منځته راغله، د الله ﷻ له طرفه د انسان تر پیدا کیدو او څه وخت تریدو وروسته چې انسانان د ښکار کولو او د خوارکي توکو د لاس ته راوړلو، کور جوړولو، کالیو پیدا کولو او د ژوندانه د نورو اړتیاوو د لیري کولو لپاره یو ځای سره را غونډ سول، په دې راغونډېدو او یو ځای کېدو سره دوی د ټولنیز ژوندانه د ترسره کولو لپاره د نوي بدلون لاره هواره کړه (اخلاص، ۱۳۹۶: ۴ مخ).

کله چې انسان د ژبې څښتن سو، ورسره مل ژبنی هویت را منځته سوی دئ، ژوند، ژبه او هویت درې لومړي خو سره تړلي مفاهیم دي، چې د انسانانو سره له پیله مله دي.

## د څېړني شالید

د هویت او ژبې موضوع ډېره مهه ده، په پښتو ژبه کې ددې دوو پدیدو اړوند مستقله مقاله یا علمي اثر نه دئ لیکل سوی، خو په انفرادي ډول یې ځینې موضوعات را اخستل سوي

دي، پوهنوالي نظيفي اخلاص په خپل ليکلي اثر (د پښتو ژبي تاريخ) کي د دې دواړو پديدو يادونه په ډېره کمه اندازه کړې ده، په انګليسي او فارسي ژبه کي دا موضوعات څېړل سوي دي، د دوی پر بېلښت او اړيکه رڼغېدلي دي، د ژبي او هويت تر منځ اړيکه په انګليسي ژبه يوه څېړنيزه مقاله ليکل سوې ده، ددې مقالې ليکواله سوميا علي محمد الشهري ده، دوی د پوښتني په توګه څو نمونې را ټولي کړي دي، بيا د ژبي او هويت اړيکه ښوودلې ده، خو په پوره ډول يې هويت نه دئ معرفي کړی او دې ته ورته نور علمي او څېړنيز اثار په نورو ژبو ليکل سوي دي، خو په پښتو ژبه کي تر دې عنوان لاندي مستقله علمي مقاله او علمي اثار زما تر سترګو نه سوه.

## ميتود او کار ډول

دا مقاله کتابتوني بڼه لري، تر ډېره حده د نړيوالو علمي مقالو او سرچينو څخه په‌کښې استفاده سوې ده او ډول يې تحليلي دئ، ډېره هڅه سوې ده، چي ټاکلي مفاهيم په‌کښې تحليل او روښانه سي.

## د څېړني ستونزه

هويت په ټولنه کي ستر ارزښت لري، خو ډېری خلک د هويت په اصلي معني نه پوهيږي، ډېر کارول کيږي خو کله چي يې د معنی او مفهوم په اړه و پوښتل سي، ډېر نه پوهيږي، دا چي هويت له ژبي سره څه تړاو لري دا بله لويه مسله ده، په داسي حال کي چي ژبه او هويت نه بېليدونکي ارزښتونه دي يو د بل په نشتون کي يو هم ټاکلی مفهوم نه سي افاده کولای، نو په ټولنه کي ددې ارزښتونو د پېژندني ښه پوره تشه سته، دا مقاله تر يو حده په دې برخه کي دا تشه له منځه وړلای سي.

## هويت او ژبي ته کتنه

هويت د هغو ځانګړتياوو، خصوصياتو، روحياتو او تفکراتو مجموعه ده، چي يو انسان له بل انسان څخه بېلوي يا په بل عبارت د يوې انساني ټولني له ټولنيزو، فرهنګي، رواني، فلسفي او تاريخي ځانګړتياوو څخه بلل کيږي، چي تر منځ يې مشترک وي او ځانګړی معنوي ارزښت ولري. ټولنه د انسانانو هغي مجموعي ته ويل کيږي، چي ګډ ارزښتونه ولري. له ګډو ارزښتونو څخه موخه (ګډ فرهنګ، مشترکه ژبه، ګډ دودونه او يو دين)، دغه مشترکو ارزښتونو ته هويت ويل کيږي.

هويت په اصل کي عربي کلمه ده. په پښتو ژبه کي دا نومونه ډېره کارېدلې ده. په څينو ليکلو اثارو کي د (پېژندني يا پېژندګلوی) معادل لغتونه ورته کارول سوي دي، خو د هويت بشپړ مفهم نه سي انتقالولای، د انګليسي ژبي د (Identity) کلمې معادله ده، هويت د ټولنيزو علومو د فرهنګ

پېژندنې او ټولنپوهنې په علومو کې ځانګړی ځای لري. د ټولنيزو علومو برخه ده، ځکه نو د هويت په تعريف کې ډېر زيات د نظرياتو اختلافات سته ( somay ali,2023).

ملي هويت په لنډه توګه د يوه ملت تاريخي وياړونو، کلتوري ارزښتونو، مذهبي مقدساتو، تګلارو، خپلواکۍ او ولسواکۍ ته ويل کيږي. په نړۍ کې بېلابيل قومونه، قبيلې او ملتونه پخپلو ملي هويتونو پيژندل کيږي او د ښه هويت درلودنکي ملتونه د لوړو سياسي ارزښتونو او عزت خاوندان دي. خدای ﷻ زموږ ملت ته خورا ښه تاريخي وياړونه، ملي کلتوري او مذهبي ارزښتونه، ملي غرور او د خپلواکۍ تلپاتې جذبه ورکړې او په دې توګه يې ورته ستر ملي هويت (افغان، ا فغانيت او اسلاميت) وربخښلی دئ( نيازی، ۲۰۱۴) .

هويت په لغت کې شخصيت، ذات او هغه معنويت ته ويل کيږي، چې په پايله کې يې پېژندنه را منځته کيږي يا هغه ځانګړنې ته ويل کيږي، چې د دوو انسانانو تر منځ يې توپير په وسې .(Chatlos, (2023) )

د فارسي ژبې په اريان پور قاموس کې د هويت لپاره دوه مفهومه ليکل سوي دي ۱ – (ورتوالی، همډوله، همساني او همرنګوالی) ۲- (هويت، کيستي، نام او نښان) (اريانپور، ۲۰۱۵: ۲۳۳مخ). په امريکايي هيريټاج قاموس کې د هويت لپاره داسې تعريف ليکل سوی دئ (هغه ځانګړتياوې چې له مخې يې يو شی په روښانه او واضيحه توګه وپېژندل سي.) (انلاين ډيکشنري ـ American Heritage ).

د بېلابيلو علومو پوهان د هويت لپاره اړوند مسلکي تعريفونه لري، د اروا‌پوهنې دوه مشهور پوهان (پياژه او فرويد) وايي د انسان د رشد په بېلابيلو مرحلو کې د هويت بنسټيز جوړښتونه را منځته کيږي او دوی وايي چې د ټولنې په غيږ او د ژوندانه په مختلفو مرحلو کې هويت د انسان په خصوصياتو کې ځای نيسي او بالاخره د ټولنې ټول ملي ارزښتونه او حساس مسايل د انساني هويت برخه ګرځي. موږ کله-کله داسې ټاکلو مجموعي ځانګړونو ته (ملي هويت) وايو، چې د يوې ټولنې د خلکو تر منځ مشترک وي او د هغو له مخې دوی پېژندل کيږي ( صلواتي، ۱۴۰۱).

ټولنپوهان هويت هغه احساس ګڼي، چې يو شخص يې پخپله ټولنه کې تر لاسه کوي، هغه ګډې او بېلې نقطې چې يوه ډله له بلې ډلې څخه بېلوي او تر منځ يې توپيرونه پولې جوړ وي دغه توپيرېز ټکي ته هويت وايي. ټولنپوهان وايي هويت هغه احساس او فکر دئ، چې انسانان يې له خپلې ټولنې اخلي او د وخت په تېرېدو سره د ټولنې مشترک ارزښتونه او فرهنګونه د دوی په وجود کې ځای پر ځای کيږي، چې د نورو ټولنو له وګړو سره يې توپير په کيږي (نصرآبادی، ۱۳۸۴). فلويا انتياس د هويت په اړه وايي: (هويت د هغو ارزښتونو، عقايدو، تجربو مجموعه ده،

چي د فرد او ډلي په پېژندنه کي ستره ونډه لري. هویت بېلابیل اړخونه لري. د قومي، مذهبي، جنسیتي، ټولنیزو او اقتصادي بې‌ثباتیو له امله زیانمن کېدای سي) (Floya، 2019).

هویت په اصل کي د هغو پوښتنو مجموعه ده، چي یو څوک یې له ځانه څخه وکړي (زه څوک وم؟ څوک یم؟ چیري وم؟ د کومي ژبي ویونکی یم؟ د کومي قبیلې غړی یم؟ قوم او نژاد مي څه دئ؟ په کوم ملت او ملیت پوري اړه لرم؟ اصلي ریښه مي له کومه ځایه ده؟ د نړی په دې لویه غیږ او پرمختګ کي څه نقش او ونډه لرم؟) (مطهرنیا، ۱۳۸۵).

هویت د یوې ټولني د ټولو ارزښتونو هغه مجموعه ده، چي د هغي ټولني انسان په اسانی سره په پېژندل کیدای سي. څینو هویت د یوې ټولني د معنی او مفهوم په توګه کارولی دئ، د هري ټولني د خلکو ژوند او د ژوند ډول یوه معنی لري، که چیري په یوه ټولنه کي تخریب او ستونزه پېښه سي، معنی او مفهوم د لاسه ورکوي، چي معنی یې د لاسه ورکړه هویت یې زیانمن سو. د ټولنیزو علومو عالم بوزان هویت د یوې ټولني روح ګڼي، پراخ مهاجرتونه، قومي جګړې او نوري ګډوډۍ هویت زیانمنوي، نو د هویت ساتنه په داسي بحراني حالت کي ډېري پاملرني ته اړتیا لري (buzan ،1993).

زموږ تېر برم یا د ژوندانه لوړي ژوري او هغه پېښي چي زموږ په ټولنه کي رامنځته سوي دي، ددې ښې او بدي پایلي زموږ پر هویت او ژوندانه اغیزي کوي، پیښي د ټولني باثباته نظام له منځه وړي. فرهنګي یرغلونه، ژبني زیانونه او ټول انساني ارزښتونه له خپل اصلي حالته باسي او کله-کله یې بیخي له منځه وړي، چي ډېري بیلګي یې د نړۍ په بېلابیلو هېوادونو کي سته.

ژبه نه یوازي د پوهاي- را پوهاوي او د فکر د ودي وسیله ده، بلکي د ځان پېژندني او هویت سرچینه هم ده، هویت یوه کلتوري پدیده ده او کلتور پر ژبه ولاړ دئ. د یوه قوم هویت د هېواد دننه د هغه د تاریخ جوړوني په پروسه کي خپله بڼه ښکاره کوي، ژبه د قوم د هویت نخښه ده، د ژبي پر بنسټ قومونه یو له بل نه بېلیږي او توپیر یې څله کیږي؛ کله چي د یوه قوم ژبه مړه سي، نو هغه قوم مري (اخلاص؛ ۱۳۹۶. ۱۷ مخ). سید جمال الدین افغان وایي: (هر ملت چي خپله ژبه له یاده یستلې، نو خپل تاریخ یې ورک کړی دئ، عظمت یې له لاسه وتلی او د تل لپاره د غلامی په ځنځیرونو کي تړلي پاتي سوي دي.) (غوربندی، ۱۳۹۹: ۸ مخ).

ژبه او هویت د ټولني معرفتي بنسټونه تشکیلوي، د ټولني رغښت او سمبالښت پرته له ژبي ناممکن دئ. د تاریخي دورو په لړ کي د ژبي را روانه لړۍ ددې سبب سوې ده، چي پخپل غیږ کي دا ستر معنوي ارزښت وساتي، ژبه د هویت او فرهنګ د ساتلو لویه انتقالي وسیله ده (somaya,2023).

ژبه او هویت ډېرې ژورې او پېچلې اړیکې سره لري. ژبه د اړیکو، تاریخ، کلتور او ارزښتونو د انتقال ډېره قوي وسیله ده او د انساني هویت په ټاکنه کې مرکزي ونډه لري، ژبه یوازې د اړیکو وسیله نه ده، بلکې د یوې ټولنې د خلکو د فرهنګ، آدابو، دودونو د انتقال دنده هم ور د غاړې ده او د ژبې له لارې خلک خپلې کیسې، تاریخونه، تجربې او افکار په اسانه تر نورو انتقالولای سي. ژبه د قومیت او ملیت د هویت څرګندولو دنده هم لري، د نړۍ هر قوم او ملیت ځان ته ټاکلې ژبه لري. دغه ژبه د دوی د هویت او پېژندنې سبب ګرځي او د نورو ملیتونو او قومونو سره یې په دې توپیر کیږي. انسانان د ژبو په واسطه ځانونه معرفي کوي، یعنې ژبه د معرفت بنسټ تشکلیوي، د یوه انسان د ټولنیز، فرهنګي او قومي شناخت بنسټ بلل کیږي. ژبه د خلکو د ټولنیز مقام، زده کړو او معنوي ارزښتونو معیار څرګندولای سي.

ژبه د انسانانو سره مرسته کوي، چې خپل چاپیریال او دباندنۍ نړۍ درک کړي، تفکر ته ځواک ورکوي او د شناخت ساحه پراخوي، ژبه د انساني شناخت او پېژندنې لپاره اساسي وسیله ده. په ځینو ټولنو کې ژبې او فرهنګونه سره ګډ سوي دي. په یوه ټولنه کې څو ژبې او څو فرهنګونه وي، دلته هویت زیانمن کیږي او افرادو ته د خپل شناخت په برخه کې ستونزې ایجادیږي او موضوع پېچلې کوي (somaya,2023).

ژبه په بېلابیل ډول د هویت په ټاکلو او څرګندولو کې خپله مهمه ونډه لري، ژبه د فرهنګي هویت لپاره لومړۍ بنسټیزه وسیله ده، ځکه ژبه د یوې ټولنې د خلکو د دودونو، ارزښتونو او ولسي ادبیاتو لېږدونکې ده. د یوې ځانګړې ژبې وینګ انسان د خپل فرهنګي هویت سره مښلوي او د belonging احساس را منځته کولای سي ( Floya، 2019).

ژبه هغه انساني ځانګړنه ده، چې د لومړني انسان (آدم ع) له پیدایښت سره سمه منځته راغلې ده او د انساني کلتور تر ټولو لوی او خورا ستر ارزښت ګڼل کیږي (غوربندی، ۱۳۹۹: ۱مخ).

ژبه د ټولنیز هویت په ټاکنه او څرګندتیا کې هم مهمه ونډه لري، په ټولنه کې بېلابیلې لهجې، مختلف تلفظونه او ژبني راز – راز ډولونه، په دغه برخه کې بېلنخښې ټاکي او د ټاکلې ټولنې ټولنیزې هویتې ټاکنې کې مرسته کوي او د دوی تر منځ د ژبې په مرسته توپیرونه رامنځته کیږي. ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده، چې د ټولنې د وګړو ترمنځ مختلف ټولنیز مناسبات ټینګوي ( غوربندی، ۱۳۹۹، ٦مخ).

د انسانانو فردي هویت ټاکنه کې هم ژبه اساسي ونډه لري. هر انسان خپل افکار، تجربې او د فکر د څرګندتیا ډول او طرز لري. کلمات او د هغوی غوراوی، د دوی شخصي احساسات،

عقاید او د ژوند کیسې، دغه انساني تو پیرونه هم د ژبې په واسطه سره بېلیږي او هر فرد ځانله شخصیتي هویت لري، چې یوه برخه یې د ژبې په واسطه څرګندیږي.

ژبه په ټولنه کې د قدرت جوړوني د څرګندتیا او غښتلتوب وسیله هم بللای سو، د ژبې تسلط پر نورو ژبو فردي هویت ته زیان اړوي او د ژبو فرهنګي یرغل ورو-ورو د بلي ژبې او فرهنګ د له منځه وړلو سبب ګرځي.

یو شمېر انسانان په داسي ټولنو کې ژوند کوي، چې هلته خو ژبې او خو فرهنګونه کارول کیږي. د دې ټولنې انسانان په څو هویتي او څو فرهنګي چاپېریال کې راګیر وي. په بېلابیلو ژبو خبري کول د هویت په څرګندولو کې ستونزې او ابهامات را منځته کوي او یو انسان د مختلفو فرهنګي او ټولنیزو ګروپونو سره تړي.

ژبه د هویت په اړه د خبرو او بحثونو وسیله ده، انسانان د خپلو هویتونو د څرګندتیا او د هویت په اړه یو له بل سره بحثونه په ژبه کوي. فرهنګي، دودیز او ارزښتیز مسایل  په ژبه بحث کیږي.  دلته هم ژبه د هویت په څرګندتیا او بدلون کې ونډه در لودلای سي.

ژبه د یوې ټولني یا یوه هېواد د هویت په جوړولو کې ستره ونډه لري. ژبه د فکر، احساس او فهم ډېره پیاوړې وسیله ده. پوهان وایي، چې یوه واحده ژبه د بېلابیلو قومونو تر منځ  د یووالي او همدردی د احساس په را منځته کولو کې ډېره اغیزمنه وسیله ده (عیوضي، ۱۳۸٦). د ژبې او هویت تر منځ اړیکه ډېره ټینګه او نه بېلیدونکې ده. دا دواړې پدیدې یو پر بل اغیزې لري. انسانان د دواړو له لوري اغیزمن کیږي. کلتوري مسایل په ژبه څرګندیږي یا که وواېو چې ژبه د کلتور د انتقال وسیله ده. په دوو ټولنو کې کلتورونه توپیر لري دغه توپیرونه په ژبه بیانیږي، مثلآ په انګلیسي ژبو هېوادونو کې پېرېدونکي په سودا اخستنه کې د (ډېره مننه، لطف او مهرباني) الفاظ ډېر کار وي؛ برعکس په جاپان کې پلورونکي د مهرباني او منني ډېر الفاظ استعمال وي، که څه هم حالت یو شان دي، یو ډول فعالیت ترسره سوی دئ،  خو په الفاظو کې د دوی تر منځ توپیرونه معلومیږي. ژبه، ژبني الفاظ، د کلمو غوراوی او د جملو جوړښت توپیر لري. ژبه او ژبنی وینګ د ټولنې هویت او د کلتورونو په بېلوالي کې ستره ونډه لري  (سومیا، ۲۰۲۳ ). د البرټومیلوچي په وینا، هویت تل په تزلزلي حالت کې دئ. (کله جنجالي کله حل حالت) وي، یعني هغه تعریفونه چې موږ یې له ځانه لرو او نور یې زموږ په اړه لري تر منځ یې توپیر سته. هویت ټولنیز، فرهنګي او فکري توپیرونه را منځته کوي. ژبه ددې ارزښتونو په څرګندتیا او اظهارولو کې مهمه ونډه لري.

د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې ژبه د تابعیت اخستني لپاره شرط ټاکل سوې ده، په ځینو هېوادونو کې تابعیت اخستنه ډېره سخته ده. دوی پخپلو قوانینو کې یو چا ته د خپل هېواد هویت ورکول یا د هغه

ځای تابعيت ورکول د ژبې تر زده کړې محدود کړی دئ. له دې هېوادونو څخه يو د روسيې هېواد دئ، چې هلته بشپړ تابعيت اخستل ډېر ستونزمن کار دئ. داسې انسانان هلته سته، چې دوې درې لسيزې يې کېږي، چې د ياد هېواد بشپړ تابعيت يې نه دئ تر لاسه کړئ. روسانو د روسي تابعيت اخستنې لپاره د روسي ژبې زده شرط ټاکلې ده؛ که يو کس روسي ژبه سمه او د دوی د تقاضا مطابق زده کړي، تر يوې دولتي ازموينې ووځي، فوق العاده او بشپړ تابعيت ورکوي. دا په دې مانا چې ژبه د هويت په اخستنې، ساتنې او همفکرۍ کې ډېره ستره او ارزښتمنه ونډه لري (د روسيې د اتباعو قانون، ۲۰۲۲).

د هويت څرګندتيا يوازې تر ژبې محدوده نه ده، ځينې نور ارزښتونه هم سته، چې د ملي هويت په را منځته کولو کې ونډه لري، لکه (جغرافيه، دين، مذهب او فرهنګ) دې ته ورته فکر؛ د فارسي ژبې ليکوال ښاغلي معيني علمداري وايي: (له دې څخه هيڅ انکار نهسي کېدلای، چې جغرافيايي قلمرو دي په ملي هويت ټاکنه کې ونډه و نهلري. وطن او خاوره د هويت څرګندونې بنسټيز لاملونه دي. ملي هويت د ملي ارزښتونو، ديني، انساني، ټولنيز، ملي نخبې، دودونه او ادبياتو ټاکلې مجموعه ده، چې ددې عناصرو څخه ملي هويت را منځته کېږي او ددې هره يو ونډه ارزښتناکه ده) (معيني علمداري، ۱۳۸۳).

ددې ټولو ارزښتونو د څرګندتيا او وينګ وسيله ژبه ده، د ملي هويت په پېژندنه کې ژبه ډېر بارز رول لري، مثلاً يو څوک وايي زه افغان يم، خو په پښتو ژبه نه پوهېږي، يعني دا ډېره سخته ده، چې دی دي ځان افغان ثابت کړي، ځکه د هويت پېژندنې د نورو عناصرو تر څنګ ژبه ډېر ارزښت لري.

د ژبې تر څنګ وطن او مذهب هم د هويت جوړونې په پروسه کې ډېره زياته ونډه لري، که څه هم زموږ د مقالې موضوع وطن او مذهب نه دئ، ونډه يې د بحث وړ ده او بېلې مقالې ته اړتيا ده. ډېری داخلي او نړيوال پوهان په يوه ږغ موافق دي، چې ژبه د ملي هويت په جوړونه کې ستره ونډه لري. د تاريخ په اوږدو کې بېلابېلو قومونو او مليتونو د متفاوتو ژبو په درلودلو سره يو د بل تر څنګ اوسېدل، د وخت په تېرېدو سره هري ژبې د خپل مليت او قوم سره ډېر تړاو پيدا کړ، بالاخر چې ژبه د هغه قوم د هويت او پېژندنې بنسټيز ارزښت او مهم عنصر وګرځېد. د ډېرو ملتونو هويت د ژبې او ژبه يې د قوم په نامه نومول سوې ده. کله قوم د ژبې په نامه شهرت پيدا کړی وي او کله-کله داسې وي چې ژبه د اړوند قوم په نامه مشهوره سوې وي، يعني د نومونې وجه يې کېدای سي يو له بله څخه مشتق سوې وي، مثلا:

**د ژبې پربنسټ د قوم هويت:**

*لومړی جدول: د ژبې پربنسټ د قوم هويت*

| ژبه | قوم | نومونه |
|---|---|---|
| پښتو | پښتون | پښتانه |
| عربي | عرب | عرب |
| روسي | روس | روسان |

او يا هم د ژبې له مخې دا هويتي نوموني را منځته سوي دي:

**د قوم پر بنسټ د ژبې هويت:**

*دوهم جدول: د قوم پر بنسټ د ژبې هويت*

| قوم | ژبه | نومونه |
|---|---|---|
| پښتون | پښتو | پښتانه |
| عرب | عربي | عرب |
| روس | روسي | روسان |

ډېرى انسانان د خپل هويت د ښرګندولو لپاره يوازې ځان په ژبه (د ژبې په نامه) معرفي کوي. ژبه د يوه انسان د هويت ښرګندولو غوره وسيله ده. همدارنګه د قوم په بيانولو سره هم د هويت ښرګندونه کيږي او هم د ژبې ښرګندتيا د قوم په يادولو سره خپله بيانيږي. ژبه د قوم په ښرګندتيا کې دومره بارزه ده، که د يوې ژبې ويونکې خپله مورنۍ ژبه هېره کړي، د دې قوم نور وګړي هغه له خپله قوم او هويته بېګانه ګڼي. هغه ټولنه چې ژبه يې الفبايي نظام ولري، تر هغې ټولنې د ښه هويت ښښتنه ده، چې ليکنی نظام نه لري، يا په بل عبارت هغه ټولنه چې ژبه يې يوازې په شفاهي ډول استفاده کيږي، د کمزوري هويت درلودونکې ټولنه ده. ( ژو ، ۲۰۰۰کال) د کلتور په پېژندنه کې د ژبې اهميت دومره زيات دئ، چې له مخې يې د يوه ملت کلتور په پېژندلای سو يا د يوه مليت د کلتور پېژندنې کيلي همدا ژبه ده. ژبه د هويت ښرګندولو او روښانه کولو لپاره ډېره غښتلې او بنسټيزه وسيله ده، دا يوازې د فرد او ټولنې مشترکې او بېلې ځانګړنې نه ښرګندوي، بلکې په واسطه يې خپل ځان او د نورو د درک ښه زمينه برابر وي( somaya,2023).

## پايله

د هويت او ژبي اړوند مبحث په پښتو ژبه کي ډېر بحث سوی نه دئ، په ځينو اثارو کي يې يادوني سوي دي، ډېر ځلي موږ له داسي جملو او وينګ سره ډېر مخ سوي يو، چي ژبه هويت دئ يا د هويت لپاره ژبه بنسټ بلل کيږي. داسي هم ليکل سوي او ويل سوي دي چي د ژبي ورکېدا د هويت له منځه تلل دي. د هويت او ژبي ارزښتونو ته په کتلو سره مو دا دوې پديدې وځېړلې او د دوی ترمنځ پر اړيکو نسبتاً مفصل بحث سوی دئ. دا چي په اړه يې په پښتو ژبه کي ډېر ليکلي اثار نه ول، نو مو له انګليسي، فارسي او ځينو روسي اثارو څخه استفاده کړې ده. د هويت او ژبي تړاونه په ټولو ملتونو کي ورته موخي لري. هره پديده د بلي بشپړه کوونکې ياده سوې ده او بشر په تاريخ کي ستر معنوي ارزښت لري.

په دې څېړنه کي ډېر ځلي دا يادونه سوې ده، چي ژبه د هويت څرګندونکې ده او د ژبي ارزښت دومره زيات دئ، که ژبه د هويت د نورو عناصرو له منځه وباسي، اصلاً هويت له منځه ځي. ژبه د هويت په اړه د خبرو او بحثونو وسيله ده. انسانان د خپلو هويتونو د څرګندتيا او د هويت په اړه يو له بل سره بحثونه په ژبه کوي. فرهنګي، دوديز او ارزښتيز مسايل په ژبه بحث کيږي. دلته هم ژبه د هويت په څرګندتيا او بدلون کي ونډه در لودلای سي.

په دې مقاله کي د ژبي او هويت پر متقابلو اړيکو هر اړخيز بحث سوی دئ. ژبه او هويت ډېري ژوري او پېچلي اړيکي سره لري. ژبه د اړيکو، تاريخ، کلتور او ارزښتونو د انتقال ډېره قوي وسيله ده او د انساني هويت په ټاکنه کي مرکزي ونډه لري. ژبه يوازي د اړيکو وسيله نه ده، بلکي د يوې ټولني د خلکو د فرهنګ، آدابو او دودونو د انتقال دنده هم لري او د ژبي له لاري خلک خپلي کيسې، تاريخونه، تجربې او افکار په اسانه تر نورو انتقالولای سي. ژبه د قوميت او مليت د هويت څرګندولو دنده هم لري، د نړۍ هر قوم او مليت ځان ته ټاکلې ژبه لري، دغه ژبه د دوی د هويت او پېژندني سبب ګرځي او د نورو مليتونو او قومونو سره يې په دې توپير کيږي. انسانان د ژبو په واسطه ځانونه معرفي کوي، يعني ژبه د معرفت بنسټ تشکليوي. د يوه انسان د ټولنيز، فرهنګي او قومي شناخت بنسټ بلل کيږي. ژبه د خلکو د ټولنيز مقام، زده کړو او معنوي ارزښتونو معيار څرګندولای سي. ژبه د انسانانو سره مرسته کوي، چي خپل چاپيريال او دباندنۍ نړۍ درک کړي، تفکر ته ځواک ورکوي او د شناخت ساحه پراخوي. ژبه د انساني شناخت او پېژندني لپاره اساسي وسيله ده. په ځينو ټولنو کي ژبي او فرهنګونه سره ګډ سوي دي، په يوه ټولنه کي څو ژبي او څو فرهنګونه وي، دلته هويت زيانمن کيږي او افرادو ته د خپل شناخت په برخه کي ستونزي ايجاديږي او موضوع پېچلې کوي.

## ماخذونه

1. اخلاص، پوهنوال نظیفه، ۱۳۹٦، د پښتو ژبې تاریخ، کابل: نویسا خپرندویه ټولنه
2. اکبري، بهمن، ۱۳۸۷، بحران هویت و هویت دینی، ژورنال ( ویژه فلسفه و معارفت اسلام) تهران: نشریه: پیک نور- علوم انساني
3. بابايي فرد، ۱۳۹۳، بحران در جامعه معاصر ایران رویکرد نظري، چاپ اول ، تهران: چاپخش
4. توسلی، غلام عباس. اصل زعیم مهدي، ۱۳۹۰، هویت های ملی معمای هویت ملی، ژورنال (مطالعات اجتماعی ایران.
5. ریچارد، جنکینز ، ۱۳۹۸ ، هویت اجتماعی، ترجمه تورج یار احمدی، تهران: انتشارات پردیس دانش
6. صلواتي، مرجان،۱۴۰۱، معناداری مؤلفههای شباهت و تفاوت در بیان هویت و تأثیرگزاری آن در گرافیک شهری، نشریه رهپویه هنر /هنرهای تجسمی.۴(۵) ۷۳ – ۸۴ صفحه
7. طلایي، مرتضی ، ۱۳۹۳، مسله هویت و سبک زندگی، تهران: دفتر نشریه پژوهشهای فرهنگی
8. غزایي، بنفشه، دهقي، اشرف ، ۱۳۹۳، هویت و معنویت: مروری بر نظریه های روانشناختی با تاکید بر هویت معنوی، تهران: انتشارت نهار فریدون
9. غوربندی، پوهنوال میراجان، ۱۳۹۹، د ژبپوهنې مبادي، کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه – دوهم چاپ
10. کاشاني، عباس ارینپور، ۱۳۷۰، قاموس ارین پور، تهران: انتشارات امیرکبیر
11. نصرآبادي، علي باقي، ۱۳۸۴، همبستگی اجتماعی و مشارکت عمومی. ژورنال پرتال جامع علوم انساني. ۴۵ (٦)
12. نیازی، ډاکتر عبدالحی ، ۲۰۱۴ ، ملي هویت د ملت جوړوني بنسټ جوړ وي، انلاین، نن ټکی اسیا
13. Alshehri ,S.A.M, 2023, The Relationship between Language and Identity,journal(International Journal of Linguistics, Literature and Translation), Saudi Arabia: Bisha University, College of Sciences and Arts, Saudi Arabia

14. Anthias, F. (2018). Identity and Belonging: Conceptualizations and Reframings through a Translocational Len: Framing inequalities. Current Sociology Monograph, 65(2), 166–188.
15. Buzan, B. (1993) "Societal Security, State Security, and Internationalisation", in Waever et al, *Identity, Migration and the New Security Agenda in Europe*, London, Pinter, 41-58
16. Chatlos, J. C, 2023, Adolescent Identity Formation Versus Spiritual Transformation, Journal Of Religion And Science, 58(1), 156 – 182
17. Hossain .Anayet, Korban Ali, 2014, Relation between Individual and Society. Open Journal of Social Sciences, 2(8)

# An Overview Of The Relationship Between Language And Identity

Ph.D. Noor Ahmand Emal*[1] & Assist. Prof. Nazir Ahmad Rishtinay[2]
[1,2]Department of Pashto Language and literature, Education Faculty, Helmand University
**Email:** imall1365@gmail.com

## Abstract

This article explores the profound connection between language and identity, emphasizing their inseparable nature. Across the globe, nearly 7,000 languages are spoken today, each serving as a powerful medium for conveying culture, identity, and thoughts. Language and identity are so closely interlinked that understanding one inevitably leads to insights about the other. By examining the scientific and social dimensions of language, a deeper sense of identity naturally emerges. The purpose of this study is to analyze these two concepts in a comprehensive and multidimensional manner. While numerous ancient and contemporary scholars have proposed differing perspectives on this topic, this research focuses on examining the cultural and symbolic value of language and identity in light of modern realities.Identity can be understood as the shared values and characteristics that distinguish one society from another. These include cultural traditions, social norms, dialects, communication styles, ethnic groups, languages, religions, and belief systems—elements that collectively define a community. Language, meanwhile, is far more than a tool for transmitting ideas; it plays a central role in preserving, expressing, and fostering identity. Together, language and identity serve as the foundational pillars of society, without which its cohesion and structure would be inconceivable.Over the course of history, the continuous evolution of language has allowed it to preserve its profound cultural and spiritual value. As a result, language remains an essential vehicle for safeguarding and transmitting identity and culture. This study provides a thorough comparative analysis of the dynamic relationship between these two interconnected phenomena.

**Keywords:** Identity, Language, Culture, Identification, History

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Acdemic Journal

**Volume:1 Issue: 1 Year:2024**